# د افغانستان د رسوایۍ عصر

## د خارجي حضور د ۲۰ کلن دور د اداري او مالي فساد عددي سپړنه او الجبري څېړنه

لیکنه او څېړنه
محمدآصف ننګ

# د افغانستان د رسوايۍ عصر



## *د خارجي حضور د ۲۰ کلن دور د اداري فساد عددي سپړنه او الجبري څېړنه*

***محمدآصف ننګ**، له پکتيکا څخه*
*د اقتصاد خېرندوی مشر*

**مقدمه**

ښايي هر افغان ته مهمه وي چې نوم په نوم او بنياد په بنياد ورته معلومه شي چې په تېرو شلو کلونو (2002-2020) کې چا؟ څومره؟ او څنګه؟ اداري فساد ترسره کړې دی؟!

مګر دلته غواړم ددې سوالونو تر څنګ دا هم وڅېړم چې څنګه دغه فساد ترسره شوی؟ اغېزې او اثرات يې زمونږ پر حيثت او ژوند څنګه وې؟ چا يې زمينه مساعده کړې وه؟ آيا دا هر څه تصادفي ول که د پلان او جدول له مخې ترسره کيدل؟ او دا پوښتنه به ضرور ځواب کړم چې ولې ددې فساد رسوايې پر افغانستان او افغانانو په دومره شدت او کثرت سره وتپل شوه؟ په کابل کې د امريکا د سفير دغه اعتراف واقعاً شجاعانه و چې ويل يې: داسې ښکاري چې اداري او مالي فساد خپرول زمونږ تر ټولو اساسي پروژه وه...

مګر د افغانستان د رسوايې په عصر کې اجيرو رسنيو څنګه د رسوايې ډول ته ټول وګډول او لا يې ګډوي...کم له کمه پدې ليکنې کې دغو ټولو تلوسو ته د اعدادو او رياضي (نه د تحليل) په ژبه ځواب لټول شوی دی!

دغه څېړنه د برائت او الزام په مقصد نه بلکې د حقايقو د روښانه کولو په مقصد ترتيب شوې ده، دلته هدف دوسيه جوړونه يا د انګريزانو په تعبير د دعوا او سزا Claim and blame کيسه نده، ځکه چې دغه مرستې بلاعوضه مرستې وې چې افغانستان ته ورکړل شوې، کمې وی که زياتې، موثره وې که غير موثره، مونږ ملامت يو که بهرنيان...پدې خاطر نو دغه موضوع قضايې او محاکماتي دوران ته نشي تللی نه هم د مواخذې لپاره

عدالتي جریان په لاره اچولی شو، دا د خیرات او خیراتخور ترمینځ د ورکړې او اخیستو کیسه ده، منتها دا بدنامي پکې بې ځایه پر مونږ تپل شوې، ځکه خو غواړم خپل نسل او تاریخ ته هغه روایت بیان کړم چې په اکثریت کرکترونو کې مې پخپله د ژوندي شاهد په توګه پکې نقش ایفا کړی... د عصر پدې رسوایې کې که د احتساب او محکمې زمینه برابره نشي نو کم له کمه د پېړۍ یو ساده برائت خو به د ګواه او ګویا شاهد په توګه تر لاسه کړی شو...

اصلاً دا د شل کلن دوران یو تراژدیک داستان او سرګذشت دی چې ګڼ درسونه او عبرتونه لري، کیدای شي په افغانستان کې بیا دغسې یو دوران راشي چې دغسې اشتباهات او کمبودات پکې تکرار نشي.

## د رسوایي عصر او د پېړۍ قضاوت!




له ۱۹۷۵ تر ۱۹۸۰ کلونو د ایران انقلابي کلونه ول، که څه هم اسلامي انقلاب د فرانسې په همکارۍ په ۱۹۷۹ کې قدرت ته ورسید، او ابو الحسن بنی صدر یې لومړی منتخب جمهور رئیس و چې د روحانینو لخوا په لومړي کال کې خلع قدرت او فرانسې ته پناهنده شو... د بنی صدر په روایت د رضاشاه د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د (عصر رسوایی) داستان شروع شو، تر همدي شعار لاندې شاهي حکومت بدنام، منفور، وابسته او راوپرځول شو...

افغانستان هم همداسې یو تجربه تکرار کړې او لا یې تجربه کوي، د جمهوریت شل کلن دوران په جګړو کې تیر شو، خو وروستي کلونه یې کاملاً د بدنامۍ، د نظام د تخریب، د شخصیت وژنې او ماهیتونو د ړنګولو او د هویتونو د راپرځولو دوران و، پدې توګه استعمار همیشه خپل کار کوي، یو دوره د خپل حضور او بقا د تثبیت په مقصد انکشاف ته زور ورکوي بیا وروسته تخریب شروع کوي او خپل شریک ته زیان رسوي. د رژیمونو بدنامول د رژیم له چلوونکو شروع کیږي او بیا یې فرد فرد قیمت ورکوي، استعمار حکومتونه نه بلکې ملتونه

بدناموي، ځکه چې د انتقام په نيت راغلي قوتونه معمولاً ملتونه تر هدف لاندي نيسي، دلته هم د ايران د شاهي کلونو د پای د دور په څېر بدنامی، فساد او رسوايي په سيستماتيک ډول داسې هنرمندانه ايجاد شوه، ترويج شوه، ستره شوه، دلته په افغانستان کې عيناً هماغه سناريو تکرار شوه دلته کلتوري او اخلاقي انحرافونه او اداري فساد دومره وپرسول شوو چې تر اصلي کچې په مراتبو زيات لوی او بد جلوه شو، د افغاني اجيرو مطبوعاتو په مدد يې د رسوايي روايت دومره غټ او تر هر نامداره او خوشنامه افغان (چاروا‌کو) يې د رسوايې پرې راتاو کړ چې نه يې څوک نفی کولی شي او نه هم پدې عصر کې څوک ترې انکار کولی شي.

ماته شخصاً پدې شل کلن سريال کې د هغه آيت شريف مصداق عملاً ثابت شو چې فرمايلي دي: «**... إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ**»، د نمل په سوره کې بلقيس خپلو وزيرانو ته مشوره ورکوي، کله چې يو ملک د نورو ملوکو تر يرغل لاندې راشي، نو کلې پکې ورانيږي او عزتونه په ذلتونو پکې تبديليږي او بلکل به دوی همدغسې کوي...

ښايې دا سوال ته لا وخت وي چې وپوښتل شي، چې مونږ پخپله ولې ناخودآگاه او آگاهانه د خپل وطن او وطنوالو سپکولو ته دومره په زړه ډک يو ؟ که دقت وکړو نو وينو چې پدې بغض کې مو اصلي غله فراموش کړې هغه غله چې هم يې مال ووهو، هم يې سر ووهو او هم مو لګيا دی عزتونه لوټي!!



یوه بله د افهام وړ موضوع د مرستو د کچې په هکله هغه شفاهي مبالغه ده چې د عامیانه ادبیاتو تر کچې د خپرونکو او عوامو الناسو لخوا په نامسووله او غیر الجبري توګه مجاناً لیکچر کیږي، دا چې نږۍ دلته میلیاردنه ډالر مصرف کړي په یوه ډېر عام او نهایت معمول شفاهي روایت او ابتذال تبدیل شوی، دا روایت دومره روزمره شوی چې ته به فکر کوې د ټولې دنیا ثروت د خارجیانو لخوا افغانستان ته راوړل شوی په داسې حال کې چې دغه مبالغه آمیز روایت په ساده ارقامو او ساده ریاضي کې محاسبه کیدای شي. دلته غواړم دا روښانه کړم چې مرستې د ارقامو له لحاظ زیاتې مصرف شوې مګر په هدفي توګه ونه لګیدې او نه هم د افغانستان د ملي نهادونو لخوا پکې د دخل او خرچ تصرف په معناداره او مسوولانه توګه ترسره شوې، پیسه د بهرنیانو په لاس وه او ډېره ناکامه او بې بنیاده مصرف شوه...

په افغانستان کې فساد شوی، هم د ملي نهادونو لخوا، هم د افغان قراردادیانو لخوا، هم د افغان همکارانو لخوا منتها دا یو منلی مفهوم دی چې د فساد عوامل په افغانستان کې متعدد دي، چې ډېر عمده یې انساني حرص، فقر، جهالت، د پېړیو لوږه او محرومیت، جګړې، ناآمنۍ او په نتیجه کې یې د قانون د پلې کوونکو ځواکونو بې حده بندیدل، اختطاف او اغوا برای تاوان چې پانګونه او پانګوال یې متاثره کړې، د نامسووله ټوپکسالارو شتون، د قدرت په اډانه کې د زورواکو حمایتي او مصئونیتي نقش، باجګیر او مفسد پارلمان، بې کفایته فاسد حکومتونه، خارجي حضور، له ملي اقتصادي سیستم په غیاب کې د نامحاسبه شویو ډالري مرستو مستقیم لګښتونه، له حکومت سره موازي مالي او تدارکاتي فعالیتونو او سیستمونو شتون، له مالي او عایداتي فعالیتونو څخه ضعیف نظارت او کمزورې څارنه، د کنترولي میکانیزمونو نه موجودیت، د قانون نه حاکمیت، په دولت کې د راټول شویو ګروپونو بد ائتلاف او د دوی باجګیرانه شمولیت، په قضایي او څارنوالۍ ارګانونو کې د مفسدو مافیاوو مرموزه رسوخ او شتون، په مالي او تدارکاتي چارو بلکې په مجموع کې د برېښنایي حکومتولۍ نه شتون، د مالي او محاسبوي اجرااتو په برخه کې له مدرنه تکنولوژیکي وسایلو نه استفاده، د پول شویې کمزورې مدیریت، بهر ته د پیسو او خارجي اسعارو فرار او د بې جلبه حواله جاتو کثرتي فعالیتونه او...

### په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان د سیاسي او مالي ملاتړ په اړه مهم نړیوال کنفرانسونه

په تېرو شلو کلونو کې ۱۷ نړیوال (د ملګرو ملتونو او نړیوال بانک لخوا تنظیمیدونکي) او تر ۱۵۰ زیات سیمه ییزه، امنیتي، علمي او اقتصادي کنفرانسونه ترسره شوې چې مختصراً یې بیانوم:

1. د ۲۰۰۱ کال **د بُن نړیوال کنفرانس**، موخه یې د موقته او انتقالي اداري جوړونه، د دولتدارۍ د عمده ارکانو جوړونه، د اساسی قانون، سترې محکمې، انتخاباتو او دیته ورته مسایلو او جریانونو لپاره بنیادي کنفرانس و، چې په تعقیب یې افغانستان ته د بیارغوني او ددولت د اساسي جوړښتونو لپاره

تر ۷ میلیارد ډالرو مرستې راټولې شوې او په اصطلاح د نوي جمهوري نظام ستنې پس له سختو جګړه ییزو کورنیو او تنظیمي جګړو کېښودل شوې...که څه هم تر کورنیو جګړو وروسته د طالبانو په اول دور کې دغه ناپخلا ډلې وشړل شوې او وطن له نسبي امنیت برخوردار شو، خو پخپله افغانستان په جنګي جغرافیا تبدیل شوی و چې اساسي بدلون او اصلاحاتو ته یې اړتیا درلوده.

> د بُن نړیوال کنفرانس (۲۰۰۱)
>
> **موخه یې د موقته او انتقالي اداري جوړونه، د دولتداری د عمده ارکانو جوړونه، د اساسي قانون، سترې محکمې، انتخاباتو او دیته ورته مسایلو او جریانونو لپاره بنیادي کنفرانس و، چې په تعقیب یې افغانستان ته د بیارغوني او ددولت د اساسي جوړښتونو لپاره تر ۷ میلیارد ډالرو مرستې راټولې شوې**

2. د ۲۰۰۲ کال **د توکیو کنفرانس**، پکې تر ۵۰ هېوادونو، ملګرو ملتونو او نړیوالو سازمانونو ګډون کړی و، پدې کنفرانس کې له افغانستان سره د ۴،۵ میلیارد ډالرو ژمنې وشوې.
3. د ۲۰۰۴ کال **د برلین نړیوال کنفرانس** چې پکې ۸ میلیارد ډالر مرسته تعهد شوه خو افغانستان پدې کنفرانس کې د ملي برنامو د تمویل او انکشافي پلانونو یوه دوسیه وړې وه چې پکې یې تر ۱۲ میلیارد ډالرو تقاضا وکړه.

> د توکیو نړیوال کنفرانس (۲۰۰۲)
>
> **د افغانستان د بیارغوني لومړنی نړیوال کنفرانس و، پدې کنفرانس کې د ۵.۴ میلیارد ډالر مرستو ژمنه وشوه**

4. د ۲۰۰٦ کال **د لندن نړیوال کنفرانس**، پدې کنفرانس کې د ۱۰،۵٦ میلیارد ډالرو ژمنه شوې وه.
5. د ۲۰۰۷ کال **د روم نړیوال کنفرانس** د قانون د حاکمیت، د قوانینو تدوین، د قضایی سیستم او عدلي ساختارونو او محاکمو د جوړولو په مقصد رابلل شوی و، پدې کنفرانس کې کوربه هېواد ایتالیا د ۳۵۰ میلیون ډالرو د مرستې اعلان وکړ.

6. د ۲۰۰۸ کال **د پاریس نړیوال کنفرانس** چې د ٦٣هېوادونو او ۱۵ نړېوالو سازمانونو او نهادونو استازو پکې ګډون کړی و، پدې کنفرانس کې افغانستان د پنځه کلن انکشافي پلان لپاره د ۵۰ میلیارد ډالرو تقاضا کړې وه خو د شاوخوا ۱۱ میلیارد ډالرو ژمنه پکې وشوه.

د برلین نړېوال کنفرانس (۲۰۰۴)

**د جمهوري ریاست تر لومړنیو ټاکنو خو میاشت ترمخه ترسره شو چې پکې د ۸ میلیارد ډالر مرستو ژمنه وشوه**

7. د ۲۰۰۹ کال **د مسکو نړیوال کنفرانس** چې عنوان یې و (د افغانستان د کړکیچ څېړنه او د راتلونکو پراختیایي پروګرامونو احتمالي سناریوګانې)، پدې کنفرانس کې د تمویل غوښتنه مطرح نشوه.
8. د ۲۰۰۹ کال **د هالند د هاګ کنفرانس**
9. د ۲۰۱۰ کال د بریتانیا لخوا **د لندن دویم کنفرانس**
10. د ۲۰۱۰ کال **د کابل نړیوال کنفرانس** چې پکې له مرسته کوونکو غوښتنه شوې وه چې د مرستو ۵۰٪ دي د افغانستان د ملي بودجې له لارې مصرف شي.
11. د ۲۰۱۱ کال **د دویم بن کنفرانس** چې د ۸۵ هېوادو او ۱٦ نړیوالو سازمانونو او موسساتو استازو پکې ګډون کړی و، پدې کنفرانس کې د ۱۰۰ هېوادو او استازو هغه اساسي سرنوشت سازه سند، چې ۳۳ مادې او شپږ برخې یې درلودې لاسلیک کړی و، دغه سند ته (د افغانستان د انتقال او تحول لسیزه او د نړېوالو نقش) تر عنوان نوم ورکړل شوی و، پدې ۳۳ مادیې سند کې د(۲۰۱۵ تر ۲۰۲۵) کلونو پورې د افغانستان د ملي برنامو د

د لندن نړېوال کنفرانس (۲۰۰٦)

**پدې کنفرانس کې له اداري فساد سره د جدي مبارزې په هکله ټېنګار وشو او پکې د ۱۰ میلیارد ډالر مرستو ژمنه وشوه**

د پاریس نړېوال کنفرانس (۲۰۰۸)

**پدې کنفرانس کې بیا ځلي له افغان حکومت او نړېوالو شریکانو د فساد په وړاندې د جدیت غوښتنه وشوه، علاوتاً د دولتي نهادونو د جوړولو او ملاتړ په موخه د ۲۰ میلیارد ډالر مرستو ژمنه وشوه**

د لندن دویم نړېوال کنفرانس (۲۰۱۰)

**پدې کنفرانس کې له افغان حکومت له طالبانو سره د سولې د لار نقشه مطالبه شوه، نړېوالو د افغانستان له نظام د ملاتړ او اصلاحاتو ژمنه تجدید کړه، دولتداري او ښه حکومتولي پکې د مباحثو سرلیکونه وو**

د بُن دویم نړیوال کنفرانس (۲۰۱۱)

**پدې کنفرانس کې د بهرنیو ځواکونو د کمیدو پر طرحې او په نظامي، سیاسي او اقتصادي لحاظ د افغانستان د حکومت د ځان بسیاینې پر طرحو او ملاتړ بحث وشو.**

ملاتړ لپاره هر کال له ۳-۴ میلیارد ډالر مرستو او د نظامي او امنیتي سکتور د ملاتړ او تجهیز لپاره هر کال د ۷ میلیارد ډالرو د مرستې ژمنې شوې وې، هکذا پدې کنفرانس کې د افغانستان حکومت هم په ډیرو مسایلو مقید کړی شوی و، لکه له فساد سره جدي مبارزه، ښه حکومتولي مستحکمه کول، دانتقالي عدالت رعایت، دولتي تشکیلات تکمیلول، د سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو بهبود او ټېنګښت، د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره او تر هغه وروسته شرایطو ته آمادګی نیول او...

12. د ۲۰۱۱ کال **د استانبول پروسې کنفرانس** چې پر سیمه ییزه همپالنې، اصلاحات او اقتصادي پراختیا او خودکفایې راڅرخیدو...

د شیکاګو نړیوال کنفرانس (۲۰۱۲)

**پدې کنفرانس کې د تیرو کنفرانسونو د ژمنو په تعقیب، هر کال د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د ۴ میلیارد ډالر مرستو ژمنه وشوه.**

13. د ۲۰۱۲ **د شیکاګو نړیوال کنفرانس** چې د امریکا د شیکاګو د ایلینوی په ښار کې جوړ شوی و، پدې کنفرانس کې د افغانستان له ۵ کلن پلان او پروګرامونو د ملاتړ په موخه د ۱۰ میلیارد ډالرو ژمنه وشوه.

14. د ۲۰۱۲ کال **د آسیا زړه نړیوال کنفرانس** په ترکیه کې

د لندن دریم نړیوال کنفرانس (۲۰۱۴)

**د آیساف د ماموریت د پای اعلان او د افغانستان د حکومت ته د واک او مسوولیت د انتقال د دویمې او دریمې مرحلې د ملاتړ تجدید یکې عمده عنوانونه وو**

15. د ۲۰۱۴ کال **د لندن دریم کنفرانس** چې د ۱۳ میلیارد ډالرو ژمنه پکې شوې وه

د بروکسل نړیوال کنفرانس (۲۰۱٦)

**پدې کنفرانس کې د تیرو کلونو د لاسته راوړنو پر ساتنې او د نظام د دوام او تقویې په موخه د راروانو څلورو کلونو لپاره د ۱۵.۵ میلیارد ډالر مرستو ژمنه ترسره شوه**

16. د ۲۰۱٦ کال **د بروکسل نړیوال کنفرانس** په بلجیم کې چې په ترڅ کې یې د نړیوالو شریکانو لخوا به هر کال افغانستان ته ۳،۸ میلیارد ډالر مرسته کوي. (World Bank 2019)

17. د ۲۰۲۰ کال **د جینوا نړیوال کنفرانس** چې پکې د ۵ کلونو لپاره (۲۰۲۵ پورې) د شاوخوا ۱۵ میلیارد ډالرو مرسته اعلان شوه، پدې شرط چې افغان دولت به هر کال د مصرف کچه تر ۳ میلیارد ډالرو لوړوي او له فساد سره به جدی مبارزه کوي.

**د جینوا نړیوال کنفرانس (۲۰۲۰)**

**د جمهوریت د دوران وروستی کنفرانس و، پدې کنفرانس کې د راتلونکو پنځو کلونو (۲۰۲۵) پورې د شاوخوا ۱۵ میلیارد ډالر مرستو مشروط ژمنه وشوه، تېنگار وشو چې افغان حکومت دې د بیارغوني پروژې پراخې او هر کال دې تر ۳ میلیارد ډالرو د مصرف کچه لوړه کړې**

دا هغه وروستی کنفرانس و چې د نړیوالو همکارانو او ناټو ژبه پکې کاملاً بدله شوې وه، له افغان حکومت څخه په گڼو مسایلو کې نړۍ ناراضه برېښیده، د افغان حکومت وجاهت پکې هغه پخوانی نه و، د امریکا قبله بدله شوې وه او د شریکانو ترمینځ واټن هم زیات و، بخصوص د اوکراین او روسیې د وضعیت په اړه چې د کړکیچ په لور روان ول، اروپایې شریکان کاملاً د له افغانستانه خپل مخ اړولی و او پر خپلو مسایلو د بوختیدو لپاره یې ځان آماده کاوه. څکه خو پدې کنفرانس کې د اهدا کوونکو شرطونه او شرایط د افغانستان د زعامت له توان لوړ وضع شول تر څو پکې کم راشي، ملامت شي او له پیسو محروم شي.

## له افغانستان سره د مرسته کوونکو لخوا عملي میکانیزمونه

د بلاعوضه مالي مرستو په هکله د اهدا کوونکو هېوادونو لخوا له افغانستان سره د مرستو لپاره له اوو میکانیزمونو او روشونو کار اخیستل کیدی چې لاندې یې مختصراً تذکر شوی.




البته چې د مرستو په انسجام او مدیریت کې د نړیوال بانک، UNAMA, UNDP او ځېنو لویو اهدا کوونکو نیغ په نیغه نقشه اول درجه او د افغانستان د مالیې وزارت ثانوي نقش درلود.

**لومړی:** د اهدا کوونکو او تمویلونکو لخوا مستقیم لگښتونه، چې د خپلو لومړیتوبونو او ځانگړو میکانیزمونو له لارې یې خپلې مرستې لگولې، غالباً په نظامي چترکې د ناټو ا آیساف له

**محمدآصف ننک**
د اقتصاد خېرندوی مشر






لارې او په ملکي برخو کې یې د NGO ګانو له لارې مرستې ترسره کولې چې تر ټولو ناحسابي، ناموثره او له فساد ډکې مرستې په همدې ساحه کې دي.

**دویم:** د افغانستان پراختیایي صندوق یا ARTF له لارې چې دغه صندوق د نړېوال بانک لخوا مدیریت کیدی. په همدې صندوق کې د نړېوال بانک نقش زیات و، دوی د اختیاري او غیر اختیاري بودجې یا On budget/off budget تقسیماتو له لارې د افغانستان ملي بودجه ترتیب او محاسبه کوله. له ۲۰۰۳ تر ۲۰۱۹ پورې د نړېوال بانک په صندوق کې د افغانستان امانتي صندوق ته ۱۱،۴ میلیارد ډالر ذخیره شوې وې.

**دریم:** د مهمو «سنتي» تمویلونکو صندوق یا OECD چې پکې د امریکا متحده ایالات، د اروپا اتحادیه، د اروپا اتحادیې کمیسیون، بریتانیا، جاپان، آلمان، د شمالي اروپا هېوادونه، سویس، کانادا او استرالیا شامل دي، دوی په لویو کنفرانسونو کې د افغانستان د مالي ملاتړ عمده بسپنه ورکوونکي هېوادونه دي.

**څلورم:** سیمه ییزه بسپنه ورکوونکي، چې په دوی کې هندوستان، ایران، پاکستان، ترکیه، خلیجي هېوادونه او... شامل دي، د ټایم آف انډیا په حواله هند افغانستان ته شاوخوا ۳ میلیارد ډالر مرسته کړې (Times of India 2019)

**پنځم:** د افغانستان د نظم او قانون امانتي صندوق یا LOTFA، چې دغه صندوق هم د نړېوال بانک او افغانستان دولت لخوا په ګډه مدیریت کیدی

**شپږم:** د افغانستان مشترکه امنیتي قوماندانی یا CSTC-A، چې د افغان امنیتي سکتورونو مصرفي چاري، معاشات، لوژیستک، تدارکات، تجهیزات، انتقالات او اکمالاتي مصارف د همدې صندوق له لارې ترسره کیدل.

### په تیرو شلو کلونو کې له افغانستان سره د نړۍ د «نظامي او ملکي» مرستو لنډون

په مجموع کې په نظامي او ملکي ساحاتو کې په تېرو شلو کلونو (2002-2020 پورې) 2.3 تریلیون ډالر لګولي (البته د امریکایی منابعو او پخپله د جمهور رئیس ترمپ او جوبایدن په قول) مثلاً د برون پوهنتون Brown University د څېړنو او موندنو له مخې امریکا په افغانستان کې په تیرو شلو کلونو کې ۲،۲٦۱ تریلیون لګښت د جګړه ییز ماموریت په دران کې ترسره کړې چې لدې جملې څخه یې 184 میلیارد امریکایی ډالر له افغانستان سره (په بلا عوضه توګه) په ملکي، انکشافي او د دولتدارۍ په ساحاتو کې مرسته شوي، پدې میان کې 141 میلیارد یې د امریکا او پاتې نور (یلیارد) یې د 34 دونر هېوادونو او 180 نړیوالو موسساتو لخوا په افغانستان کې بسپنه شوې دي.




| په افغانستان کې د امریکا د جګړې مصارف (له ۲۰۰۱تر ۲۰۲۲ پورې) | |
|---|---|
| د افغانستان په شل کلن جنګ کې د امریکا د کانګرس له لوري تخمین شوي بودجوي لګښتونه<br>البته پدې کې د جګړو د قربانیانو د کورنیو او د ژوبل شویو سرښازانو دپالنې او مراقبت لګښتونه ندي شامل | |
| ***مصارف په میلیاردونو ډالر*** | |
| د امریکا د دفاع وزارت د بهرنیو اضطراري  جګړو بودجه OCO | $1,055 |
| د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لګېدلې بودجه | 60 |
| د دفاع وزارت د قرارګاهي لګښتونو بودجهد | 433 |
| د ژوبل شویو سربازانو د روغتیایی مراقبتونو بودجه | 233 |
| د جګړو لپاره د اخیستل شویو پورونو د سودي پرداختونو اندازه | 532 |
| ***مجموعي مصارف*** | **$2,313** |

## په مرسته شويو پيسو کې د فساد راپور

د سيګار يا د امريکا د ځانګړي سرپلټونکي د راپور له مخې د نړيوالو تطبيقي موسساتو لخوا له۲۰۰۲ تر ۲۰۲۰ پورې ٦۳میلیارد ډالر د بهرنيو شريکانو، قراردادیانو او امريکايي تطبيقي او اجرايي کوونکو موسساتو لخوا فساد شوی، پدې 63 ميليارد کې 19 ميليارد (30%) يې د تثبيت شويو ارقامو په حيث د جان ساپکو لخوا د امريکا کانګرس ته راپور شوې *(د دې راپور جزئياتو ته پدې ريفرنس ورتللی شئ، SIGAR 21-05-SP October 2020).*

## له افغانستان سره د غير نظامي، ملکي مرستو عددي ارقام

له دې 184 ميليارد ډالرو څخه يواځې 14-19% په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان د دولت له لارې مصرف شوې چې په همدې 19%سلنې کې هم غير اختياري بودجه چربې کوي. که څه هم د سيګار د راپورونو له مخې له ۲۰۰۱ تر ۲۰۲۱ پورې يواځې ۸٪ مرسته د افغانستان د دولت له رسمي کانال په مصرف رسيدلې چې پدې سلنه کې په نامتناوبه توګه د دولتي بودجې شاوخوا 55% سلنه يې غيراختياري پاتې شوې ده. که د سيګار رسمي احصائيو او شمېرنو ته اعتبار ورکړو نو هغه پيسې چې د افغان دولت له رسمي سيستم مصرف شوې ميزان يې په مراتبو تر هغه کم دی چې پدې تحقيق کې ما تر سره کړی دی. معنا دا چې د افغانستان د بدنامولو په هکله په سيستماتيکه او پروپاګنديزه توګه ظالمانه مبالغه شوې او د دولتي فساد کچه په مراتبو تر هغه کمه او سپکه ده چې په شفاهي اظهاراتو او رسنيو کې پرې شخوند وهل کيږي چون دلته زموږ د ساده ګۍ او ناپوهۍ په وجه او غالباً په غير مسوولانه توګه د فساد پړه پر افغانانو تاوان شوې چې دغه وضاحت او څېړنه به يې ځينې اړخونه واضح او بربنډ کړي.

تکراراً راځم ديته په تېرو شلو کلونو کې 80 تر 84٪ بودجه په مستقل ډول د دونرانو لخوا په مصرف رسېدلې دي، معنا دا چې د 184 ميليارد ډالرو له جمله مرسته شويو پيسو څخه يواځې 9.45 ميليارد ډالر يې د افغانستان د دولتي بودجې يا د ARTF (د افغانستان انکشافي صندوق) له لارې مصرف شوې، چې پدې حساب هر کال د ARTF له لارې جمعاً ۱.۸ ميليارد ډالر مصرف شوې، دا هم بايد په ياد ولرو چې له ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۰ پورې د افغانستان د دولت سهم له انکشافي بودجې حدوداً ۱۲٪ او بيا په دويمه لسيزه (۲۰۲۱-۲۰۱۰ پورې) کې دغه سلنه تر ۱۹ او څه د پاسه ۲۰٪ رسيدلې چې دا ارقام جلا تحليل غواړي، اوله لسيزه کې د نړۍ لخوا تر ټولو ډېره بودجه او تر ټولو زياته غير مسوولانه او غير موثره مصرف شوې.

### تر دویم ځلې حساب وروسته د افغانستان د ملي بودجې ارقام؟

معنا دا چې د ۱۸۴ میلیارد ډالرو څخه باید ۶۳ میلیارد ډالر بیرته منفي شي چې پاته شي ۱۲۱ میلیارد ډالر، او که وغواړو دوباره خپل حساب د ارقامو په ژبه محاسبه کړو نو دقیقاً د افغانستان دولتي بودجې ته مرسته شوې پیسې پدې حساب ۲۲.۹۹ یا ۲۳ میلیارد په شلو کلونو کې یعني هر کال د افغانستان د انکشافي صندوق له لارې د افغانستان *ملي بودجې او خزانې ته ۱.۱۵ میلیارد ډالر مرسته* ورکړل شوې دي، بیا هم تکراراً یادونه کوم چون ریاضي ارقام دي چې د همدې ملي بودجې «یعني هرکال له ۱.۱۵ میلیارد ډالرو څخه د افغانستان د اختیار وړ پیسې په دوو مصرفي برخو تقسیمیږي، په بل عبارت د ملي بودجې د انکشافي پروژو او کودونو تقسیم په دوو برخو ترسره شوې دي، ***اختیاري ملي بودجه او غیر اختیاري ملي بودجه.***

تر ۲۰۱۰ کال یعنی تر کابل کنفرانس پورې ژمنه دا وه چې د افغان دولت د وجاهت د لوړولو، موثره کولو او د صلاحیتداره کولو په مقصد به تر ۵۰٪ پورې نړیوالې مرستې د دولتي بودجې او د رسمي صلاحیتونو له لار لګول کیږي او نړیوال تمویلوونکي به خپله بسپنه افغان دولت ته سپاري، خو له رسمي تعهداتو سره سره بیا هم د نړیوال ماموریت تر پای پورې دغه ژمنې عملي نشوې، دا خو پر ځای پرېږده چې آن په ملي بودجه کې د ننه د غیر اختیاري بودجې سهم له ۵۰٪ ښکته نشو، نړیوالو شریکانو به د افغان اړخ اداري فساد، د محاسباتي شفاف سیستم نه شتون، اداري او تدارکاتي بروکراسۍ او ټیټ ظرفیت ددغه ژمنې پر وړاندې عمده دلیلونه بلل.

که پورته ارقام دوباره ضرب او تقسیم کړو او سیګار رسمي راپور اساس وګڼو، نو د افغانستان سهم له نړیوالو مرستو په هر کال کې شاوخوا ۶۰۰ میلیون ډالرو ته تنزیل مومي...ځکه چې په غیر اختیاري بودجې کې د تمویلونکو واک او اختیار فوق العاده زیات و، دونر یا تمویلونکو به د پروژو په تعین او لومړیتوب کې برلاسی نقش درلود، دا چې ولی د افغانستان حکومت خپل وجاهت او صلاحیت نه کاروه ځینې توجیهات شته، لکه چې پورته هم اشاره وشوه، د مسلکي ظرفیت کمبود، د حساب ورکوونکي میکانیزمونو نشتون، په سیاسي مقاصدو کې لکه انتخاباتو کې د بودجې د لګولو ویره، اداري او تدارکاتي فساد، د پروژو جوړونو لپاره مسلکي ناتواني او تاخیر او...

پداسي حال کې چې ځېنې دغه دلایل د قناعت وړ ندي، مثلاً د افغانستان دولت په ۲۰۰۴ کال کې د آفمیس سیستم AFMIS, Afghanistan M Financial Management Information System تاسیس او په ۲۰۰۷ کال کې عملاً په ټول افغانستان کې اجرائیوي شو (د داکتر اشرف غنی د مالیې وزارت په دوران کې)، د دي مدرن

سیستم له مخې ټول مالي عملیات، بودجه جوړونه، د بودجې د لګښت راپورونه، د معاشاتو اجرا، تدارکاتي پلان جوړونه، د تادیاتو بیلانس او...پرې ترسره کیدل، له ۲۰۱۰ کال وروسته بشري کدري ظرفیت ډیر لوړ شوی و، هر وزارت او سکتور خپل تدارکاتي پلان ترتیب او اجرا کولی شوی، خو بیا هم نړیوالو د خپل رسوخ د قایمولو، سوء استفادې، فساد، د مرسته شویو پیسو د بیرته دوی ته د ستنیدو او ترینه د منفعت د حاصلولو په موخه یې نه غوښتل د افغانستان دولتي ظرفیت ایجاد، پراخ، تقویه او حسابده شي...

## دخارجي مرستو اقتصادي اغېز ولی کم و؟

## ولي دغه مرستې بېرته له اقتصادي دوران ووتلې؟

خارجي مرستې له دروازې راغلې خو له کړکیو بېرته ووتلې او هماغو ملکونو یا نورو هغو ته لاړې چې چپاولګرانو ورته انتقالولې، یو انګریزي متل دی وایي، آسانه راغلې بیرته آسانه ځي Easy come easy go پورته مو اشاره وکړه چې خارجي مرستې د قماري پیسو په مثال دي  څرګند شمار لري خو بنیادي اثر نلري، همدا بار راوړو پیسو د فساد پدیده او فرهنګ په افغانستان کې نهادینه کړ، په کابل کې د امریکا د سفیر (رایین کراکر) په وینا امریکا دلته راغلې وه چې په لوی لاس فساد عام کړې...

د ګڼو نورو څېړونکو او معتبره څېړنیزه مرکزونو راپورونه ښئ چې اداري فساد، کمزورې اراده د فساد په وړاندې، ناتوان، نا ژمن او له بهر راوستل شوې کدرونه، او ګڼ ډیر نور عوامل وو چې د شل کلونو مرستو اغیز یې کم او د پیسو د فرار زمینه یې په سیستماتیکه توګه مهیا کړې وه چې زه یې افغاني او بهرني کرکترونه په لاندې تسلسل کې څېړم.

## څومره پیسې په تیرو شلو کلونو کې درغلۍ او فساد شوي؟
## افغان اړخ او بهرنیو څومره سهم پکې درلود؟

### اولاً، د افغانستان په اډانه کې د فساد پلټنه:

پدې برخه کې د فساد ارزونې یا فساد سنجي لپاره ګڼ میتودونه او لاسوندنه کارولی شو، مثلاً د افغانستان د عومي پالیسو د تحقیقاتو بنسټ یا Afghanistan Public Policy Research Organization (APPRO (2017) د کال ۲۰۱۷ په پلټنو کې اشاره کوي چې د دولت په درې ګونو قواوو کې ۴۰٪ هغه عناصر ځای په ځای شوې و چې دوی د بهرنیانو لخوا د سیاسي سهم او امتیاز د فورمول له مخې او د بن کنفرانس پر بنیاد، په پسا طالباني دوران کې، د نوی افغانستان واکمنان شوې وو، په دوی کې یو شمېر د مخدره توکو کاروباریان یا قاچاقبران وو (بخصوص په پارلمان یا ملي شورا کې)، یا د بشري جرمونو ناقضین وو، یا د لویو قراردادونو مالکان یا یې استازي وو یا د جنګي زورواکو ډلو خپلوان وو چې د رشوت او سیاسي رسوخ په زور یې په مهمو ارګانونو کې ګمارنه ترسره شوې وه.

لنډه دا چې د حکومتي ائتلاف ډلو د هماغه مرموزو تقسیماتو له مخې خپل ارادتمندان او وفاداران په دولتي، ملکي، نظامي او قضایې ادارو او څارنوالیو کې ټاکلې وو، چې پدې توګه دولتي لوبنی یا د مشروع اقتدار مرکز یې تر پایه د فاسد شوې مالګې په توګه تر سقوط او زوال ورساوه...! بېرته د داستان پیل ته ورګرځو...

- ***له بنیاده د قدرت تقسیم او د حکومت مفسدیدل:*** تر سپتمبر وروسته د بن په کنفرانس کې د سیاسي واک تقسیم، په خاصه توګه د امریکا او نړیوال ائتلاف لخوا د نخبه شریکانو انتخاب (دشمال ټلواله) او په راروان پړاو کې دوی ته د ملګرتیا د امتیازاتو او دوامداره شراکت په بدل کې بهرنیو ځواکونو عمده قراردادنه، لکه: د ملي امنیتي سکتور په نه شتون کې د امنیتي کمپنیو قراردادونه، د نظامي قرارګاو د جوړیدو قراردادنه، په نظامي او ملکي حکومتي تشکیلاتو کې حسابي ونډه، مرموزه مصئونیتونه چې د دوی سترګې یې سرې کړې وې دوی د زمري د سهمدارانو په امتیاز دومره مغرور شوې و چې په دولتي اډانه کې یې تعین کننده او تهدید کننده نقش درلود...پدې توګه مفسدو عناصرو یوه خبیثه او په عین وخت کې بشپړه باجګیره حلقه جوړه کړې وه چې حکومتي اداري او د قانون تطبیق کوونکي ارګانونه ورته عاجزه شوې و، حتی د جمهور رئیسانو په شمول چې لدې پدیدې او هر دم فاسدې حکومتولۍ به یې رنځ اوور خو د دغو مفسدو حلقاتو په وړاندې له اقدام بې وسه ښکاریدل...

- **د جګړو او ناامنيو مخ په زياتيدونکي پراختيا** له يوې خوا، د نړېوالو همکارانو مرموزه فشارونه (چې له فسادګرو سره يې نامرئي شراکت درلود) له بلې خوا، د پارلمان او د ملي وحدت حکومت (چې له جنګي او جهادي ډلو تشکيل شوی و) مجبوريتونه او باجګيری له بلې خوا، دا هغه بنيادي عوامل و چې د فساد د ترويج، له قومي حمايتونو سوء استفاده، له قانون څخه د مفسدينو د مصئونيت او خلاصون ګنجايش يې په سيستماتيکه توګه د همدې مفسدو کړيو په ګټې راڅرخوو.

- ***د کمزورۍ او تحت الحمايه حکومت مجبوريتونه:*** د افغانستان رهبری مجبوره وه د هرې رسمي اداري په وړاندې په تکتيکي توګه نورې موازي اداري او تشکيلات جوړې کړي تر څو پر مفسدينو د قانوني اجرااتو په متې حلقه ورتنګه کړي، مثلاً د شفافيت اداره، له فساد سره د مبارزې ځانګړې څارنوالی، عدلي او قضايې مرکز، اختصاصي محاکم، د اداري فساد په وړاندې د نظارت عالی اداره، د تدارکاتو ملي کميسيون پخپله د جمهور رئيس تر مشری راوستل، له نړيوالو شريکانو سره د نظارت ګډ کميسيونونه جوړول، د پايتخت زون تر عنوان تشکيلات، د انکشاف ملي شرکت ايجاد، د امنيت شورا د سرمفتش دفتر ايجادول، د سيګار اداري ته د نظارت، حساب اخيستني او تفتيش بلاحدوده صلاحيتونه ورکول او...ګڼې نورې داسې اداري تشکيل شوې چې متاسفانه په هرې يوې اداري کې د همدې غره کربورې او د همدې مفسدو کړيو عناصرو رخنه کولی شوی...
- وروستي جمهور رئيس د همدې ترخو واقعيتونو په درک سره تر خپل ځانګړې فلتر تېر شوې يو زيات شمير هغه کدرونه (د داود نورزي د استخدام تر فارمټ لاندې) ځای په ځای کړل چې له بهره راغلي يا راغوښتل شوی وو، هغه عناصر چې له افغانستان سره روحي پيوند او تعلق کم و، هغه دوه تابعته افغانان چې افغانستان ورته غنيمتي مال او د باد راوړو ډالرو د چور خزانه ښکاريده، دوی په کم وخت کې ډير امکانات ټول کړل، نظام او د قدرت اصلي اډانه يې پخپلو عياشيو بدنام کړه، بې تجربه پېغلې او ځوانان د قدرت په اصلي اډانه کې دومره په کثرت سره راټول شول چې په سبب يې قانوني تعينات او وطني کدرونه انزوا ته ور وکاږل.

- په نيت او ارادې تبصره نکوم خو مشکل دا و چې جمهور رئيس پرته له ميکانيزمونو، معيارونو او اصولو او پرته له تفکيک د ټولو روايتي ادارو په وړاندې آګاهانه يا ناخودآګاه محاز آرايې ترسره کړې وه، دی پدې کشمکش کې دومره منزوي او منفور شوی و چې پخپله له خپل ځان سره په جنګ و، دی پخپله د خپل واک لپاره په ګواښ او دښمن تبديل شوی و... مثلاً په هر وينا کې به يې د خپل نظام وزارتونه، امنيتي سکتورونه، قضايي ارګانونه په فساد او بې کفايتی تورنول، ده پخپله او د هېواد لومړی ميرمن يې د قانون جوړوني نهاد (ملي شورا) په وار وار په فساد متهم کړی و، هغه وزيران چې پارلمان به صلب اعتماد کړل مګر د جمهوريت د مشرتابه له مرکز به يې له صلب اعتماد شوي مقام څخه

د ملاتړ په ړانده رجحان کې د پارلمان تصمیم ویتو کاوه. دا د جمهوریت او د قانون د حاکمیت تر ټولو لوی زوالي نزول و، د لوړ رتبه اراکینو توهین او سپکاوی په عادي جریان تبدیل شوی و... څو ښاغلیو ته یې د تقنین، څو تنو ته د پانګونې او یو دوو ته پکې د تعین او استخدام مکمل واک سپارلی و، دا یعنی د بې اعتمادۍ اوج چې پدې توګه د نظام بقا او دوام هیڅ امکان نه درلود...په دغسې فضا کې له نظام سره د تعلق حس، د خدمت او د وفادارۍ انګیزه طبعاً صدمه وینې...

- ***حکومتي واک او مشروع اقتدار په سهامي شرکت بدلول:*** په وروستیو کلونو کې د حکومت مشروعیت د سهامي شرکت کچې ته راوغورځید، د دوو کاندیدانو تر مینځ د ملي وحدت تر عنوان د حکومت(۵۰-۵۰٪) تقسیمول، بیا په دویم ځل تر ټاکنو وروسته ګویا د حکومت د ناعادلانه تقسیم په سبب د قدرت جزیرو عملاً شکل وینو، له مخالفینو سره د جګړې انګیزه د ***دوو قدرتمشرانو*** د تضاد او کشمکش په ماموریتونو تعویض شوې وه، عملاً د دولت صلابت او هیمنت راغورځیدلې و، د وطن پالو افغانانو مایوسي اوج ته رسیدلې وه، سکتورونو ته حمایت او رسیدګي په سیاسي وفادارۍ مشروط شوی وه...پدې توګه فساد اوج ته ورسید، انګیزه ماته شوه، بدنامول عام شول او د رسوایې عصر د قدرتمشرانو د ناسنجیده کړنو په نتیجه کې په سیستماتیک ډول د افغانانو پر تندي هک شو..!!

- ***له مدیریت تر رهبرۍ د ظرفیت ناوړه استعمال:*** د سیګار په روایت افغانستان د بدې حکومتولۍ، فساد او ټیټ ظرفیت په سبب د میلیاردونو ډالرو له ترلاسه کولو محروم شو، علاوه پر دې همدغه عوامل باعث شول چې افغان حکومت په لوی لاس له کال ۲۰۰۲ تر کال ۲۰۱۱ پورې د هغو ۳۰ میلیارد ډالرو له لګښت بې برخې شي چې عملاً د افغانستان امانتي انکشافي صندوق ته د بسپنه ورکوونکو لخوا واریز شوې و. هکذا په وروستیو اوو کلونو کې د پورته ذکر شویو عواملو او هم د ملي پروګرامونو د سوء مدیریت (بخصوص د تدارکاتو د مرکزي کیدو، د څو وزارتونو د ادغام او انفصال، د جمهوری ریاست دچارو اداري ته د مالیې وزارت او نورو عایداتي ادارو د ځینو تشکیلاتو او صلاحیتونو انتقال)، له وزارتونو او سیمه ییزه ادارو سره دسلیقوي او تقسیمي تعامل (د ۵۰٪ پر بنسټ چې د ع او غ تر منځ د جان کیرې په وساطت ترسره شوی و) له مخې، د تقسیم شوې سکتورونو له مخې د یو بل د عالیرتبه مقاماتو کم ارزښته کول، دوی ته دوسیه جوړونه او په ممنوع الخروجي لستونو کې د فرا قانوني احکامو پر بنسټ د هغوی اضافه کول او د ګڼو نورو شکننده عواملو په سبب له یوې خوا د رسوایې عصر ته قوت ورکاوه او له بلې خوا افغانستان له هغو لویو مرستو محروم شو چې له کال ۲۰۱۵ تر ۲۰۲۰ پورې (ARTF ته) د واریز شوې وی، ***مثلاً په همدې موده کې د دولت د نه مصرف او ځنډمن تدارکاتي اجراتو په سبب تر لس میلیارد ډالرو زیات ندې مصرف کړې.***

*که وګورو نو د سوء مديريت او ټيټ ظرفيت په سبب په تيرو شلو کلونو کې افغانستان ته د ورکړل شويو مرستو ۴۵ ميليارد يې ندي لګول شوي، طبعاً نور ډير حسابونه هم شته چې په سبب يې افغان لوري، بخصوص رهبرۍ ته ملامتي ور اوړي، مثلاً په تيرو شلو کلونو کې د نړۍ له لوري د ژمنه شويو مرستو له جملې ۵۶ ميليارد ډالر يې ندي ترلاسه شوې* چې د دولت د مشرتابه او مالیي سکتور جدي هڅو او پيګيري ته يې اړتيا درلوده، مګر دغه ژمنې تر انجام ندي رسول شوي...


- ***د ICB له لارې د پروژو اجرا کیدل:*** په ماهيتي ډول د نړېوالې داوطلبي له لارې د پروژو اجرا او تطبيق يا د International Competition bidding تر سره کيده، پدې کې د تمويلي ادارو بخصوص د نړيوال بانک فرمايشونه شامل و، خو که افغان دولت فشار اچولی نو يې کولی شوی قراردادونه تجزيه او د ملي تدارکاتو قابل يې وګرځوي، معمولاً د غريبو هېوادونو د ودې لپاره د انکشافي پروژو اجرا د ملي تدارکاتو NCB له لارې بايد ترسره شي تر څو ملي ظرفيت او منابع په تحرک راشي. دقيق ارقام نلرو خو د اټکل له مخې هر کال شاوخوا د اختياري (دولتي بودجې) او غير اختياري (مستقيماً د دونرانو لخوا) د ۳ تر ۴ ميليارد ډالر د نړيوالو داوطلبيو له لارې له هېواد د باندې وتلې دي چې قطعاً يې زموږ پر پولي دوران او سرکل اثر ندی غورځولی، حتی افغاني بانکونه هم ترې ندې مستفيد شوې، ځکه چې تاديات د قراردادیانو بانکي حسابونو ته په خارج کې واريز شوي دي...

- ***له بهر څخه د خريداريو او لوژيستک قراردادنه:*** دخارجي ځواکونو هغه خريدارۍ چې په هېواد کې د ننه ترسره کيدای شوای مګر متاسفانه د دوی عادي لوژستيک او اکمالات غالباً له بهره وارد شوې دي، د **څښاک** اوبه، غير الکولي مشروبات، خوراکي مواد، البسه، ادويه جات او آن د تازه ميوې په شمول دا ټول له خارج او په ډير لوړ قيمت ورته واردیدل، پدې توګو هر کال په سلګونو ميليارد ډالر لګښت راتلی چې د افغانستان پولي دوران Circulation of money ته يې ډېر کمه ګټه رسولې ده، که دغه مبالغ زموږ اقتصادي دوران ته شامليدی، لکه تر دويم نړيوال وروسته د جرمني له مارشال پلان سره د امريکا مرستې، نو به يې په اقتصادي ودې او سرانه عايد کې قوي ونډه ادا کوله چې ورسره به د غربت او بيکارۍ کچه په مراتبو کمه شوې، غذايي مصئونيت او د معيشت کچه به بهتره وه طبعاً توليدي او پراختيايي فعاليتونه به ورسره پراخيدل او د رشد شاخص به کال په کال اضافه کيدو...

- ***د تورو پيسو او قراردادي سرمايو فرار:*** د جګړو او ناآمنيو په سبب د سرمايې فرار، د اقتصادي جرايمو، آخاذيو او اختطاف په سبب له کال ۲۰۰۷ تر ۲۰۱۸ پورې شاوخوا ۱۵۰ ميليارد ډالر بهرنيو هېوادونو ته د «افغانانو پانګه» ويستل شوې، خو له ۲۰۱۸ تر ۲۰۲۱ پورې شاوخوا ۵۵ ميليارد ډالر د «افغانانو پانګه» له

هېواد ويستل شوي چې همدا ارقام د مختلفو منابعو لخوا تاييد شوي هم دي. برعلاوه د جګړو او ناامنيو په سبب حدوداً ۱۸ ولايتونه (غالباً پښتانه ولايتونه) او بيا په وروستيو کلونو کې ۲۵ ولايتونه له انکشافي پروژو چندان ندي مستفيد شوي، تمويلونکو يو استدلال درلود چې ګويا په اورکې بايد پيسې و نه غورځول شي، چيرته چې جنګ وي هلته د انکشاف ورتګ ممکن او معقول هم ندی، بل طرف که اسنادو او سوابقو ته وګورو وينو چې په جګړيزه سيمو کې د پروژو قيمت څو چنده لوړ تمام شوی، د سيکورټي کاسټ په پلمه هم په پروژو کې د فساد چانس ډير شوی، هم کيفيت نه دی رعايت شوی، هم خيالي پروژې درج شوې، هم عمراني پروژې دوباره تخريب شوي چون معمولاً شفاف، حقيقي او حسابي نظارت ندی ترسره شوی چې دغو ټولو په خپل وار سره د انکشافي پروژو پر کميت او کيفيت او هم يې د فساد کچې پر پراختيا اغېز درلودلی.

- ***اداري فساد او تدارکاتي بروکراسی:*** دغه دواړه عوامل د پروژو د ځنډ او خنډ او په نتيجه کې د پروژو او انکشاف د تاخير او کميدو سبب شوي دي، د کاغذي ځنډ او خنډ په سبب طبعاً يوه بشپړه مصرفي دائره او مستفيدين ترينه صدمه ويني، د پروژو تطبيق کوونکی د جزيه او رشوت ورکولو په سبب ستومانه کيږي، دوی مجبوراً صلاحيتدار طرف ته د سهم او فيصدۍ په ورکولو سره د پروژو کيفيت ته صدمه رسوي او نهايتاً همدا خبيثه حلقه د مملکت هويت او اعتبار ته زيان اړوي چې ورسره د دونرانو علاقمندي او د پروژو له تمويل لاس اخلي او يا خو نه غواړي فنډونه او تمويل د دولت له لارې ترسره شي، غالباً به دونرانو د فساد په اړه د تحقيقاتو او څېړنو لپاره دريمګړې تفتيشي کمپنۍ استخداموليې



چې دغه کار به بیا بیا وخت ضایع کاوه او په دې توګه به د تمویل او ملاتړ چارې ټکنې کېدلې او د دولت مخالفینو ته به یې په مجموع کې تبلیغاتي ګټه هم رسوله  خو په نتیجه کې یې وطن له میلیونونو ډالرو مرستو او انکشافي پروژو محروم کیده چې دا د افغانستان په تاوان و، که څه هم په وروستیو کلونو کې تمویلونکو هېوادونو له افغانستان سره د مرستې اشتیاق نه درلود نو دغسې وضعیت د دوی بهانو او استدلال ته چې خپلې مرستې وسپموي او ور حصارې یې کړي یو ښه فرصت و، لکه څنګه چې د تدارکاتو تاخیر او مرکزي کیدو د مرستو د مصرف کچه شدیداً راښکته کړه ګویا دا وضعیت عیناً د دونر په مرموزو اشارو مهندسي شوی و.

- ***د تدارکاتو مرکزي کیدل:*** په وروستیو کلونو کې تقریباً له ۲۰۱۵ وروسته په تدریجي توګه له وزارتونو، سکتورونو او ولایتونو ټول تدارکاتي صلاحیتونه مرکز بلکې ارګ ته (د ملي تدارکاتو کمیسیون ته) انتقال شول، که څه هم په شعاري توګه د «فساد د مخنیوې او صرفه جویي» په پلمه دغه تصمیم ونیول شو، خو نتیجه یې په ګڼو دلایلو معکوسه وه:

د ټول هېواد په کچه یې هغه بشري مسلکي ځواک چې په ولایاتو او سکتورونو کې ایجاد شوې و فلج کړ، په ولایاتو کې ګڼ ساختماني او لوژیستکي شرکتونه بیکاره شول، کاروباري ځواک کمزوری او د وګړو د خریدارۍ قدرت کم شو، مخفي بیکارۍ برجسته شوه او عملاً د محلي ادارو په وړاندې په اعتراضي طرف تبدیل شول چې د دولت او ولس ترمنځ یې واټن لا پراخ او حالات په تدریجي توګه د مخالفینو په فایده تمام شول... د ملي امنیت د اهدافو له مخې باید اقتصادي تحرک او پراختیا باید د ملي ثبات د عناصرو په حیث په شدت او کثرت سره پراخ شوې وای خو برعکس د مرکزي تصامیمو او منازعاتو په سبب حالات منفي طرف ته تلل خو مرکزي ظرفی هغه حد کې نه و چې دا واقعیتونه یې دو په مناسبو برنامو ډک کړې وای...



## د مديريتي ظرفيت کمبود، د منابعو زيان او وخت وژنه

په مرکز کې د دومره پراخو او پريمانه پروژو لپاره مسلکي ظرفيت نه و، بل دا چې د ملي تدارکاتو په کميسيون کې د اعتماد بحران دومره ژور و، چې تعينات يې کاملاً مافيايي او استخباراتي کړې وو، د ارگ ځانگړې کړی او مقربينو له موقع نه په استفادې خپل افراد پکې راوستل، د آزاد رقابت اصول مات شول، د استخدام لپاره د ميکانيزم پر ځای ذاتي تقوا، چې ميزربل ندی او د خاص شناخت له مخې د غړو استخدام باعث شول چې فساد کاملاً مافيايي او پرده پوش شي.

د تدارکاتو له مرکزي کيدو سره د بی اعتمادی د بحران تر څنگ، د پروژو له اعلان نيولې بيا د آفرونو د ترلاسه کيدو، د آفرونو او داوطلبيو پرانيستل، تحليلول او بالآخره په نازل نرخ قراردادونه مستحقو او وړ شرکتونو ته تر سپارلو پورې زيات وخت ضايع کيدو، معمولاً به يې تر څلورو مياشتو وخت نيوه چې پدې ترتيب به په يوه مالي کال کې درې نوبته تدارکات ترسره کيدل.

د تدارکاتو له مرکزي کيدو سره په حقيقت کې اته کاري ساعتونه هماغه اته پاته شول، اما که صلاحيتونه تفويض شوې وای نو د رسمي ورځې اته ساعتونه به په اتيا بلکې په اته سوه بدل شوې وای، د اقتصادي فورمول له مخې هر څومره چې کاري واحدونه اضافه شي په هماغه اندازه به نوی ساعتونه اضافه کيږي، په اقتصاد کې د صلاحيتونو تفويض هغه څه دی چې کاري سرعت ايجادوي اما انحصار يې کموي، انحصار هم وخت وژني هم کار، هم انگيزه او هم کاريگر هلاک کوي، بر علاوه د تدارکاتو د مرکزي کيدو په سبب د تمويلونکو پيسې وسپمول شوې او دوباره د تمويلونکو په صندوق کې پاته شوې او دوباره يې عودت وکړ.

***يادداښت:***

*زه چې کله د لغمان والی وم نو د مرکزي بودجې د سند له مخې هر کال څه د پاسه سل انکشافي پروژې زمونږ ولايت ته رسيدلې وې که دقيق ارقامو ته لاړ شم (په۱۳۹۷ کې ۱۳٦ او په ۱۳۹۸ کې ۱۱۸ پروژې) راته منظورې شوې وی خو د ملي تدارکاتو د تاخير په سبب په دوو کلونو کې يوازې ۱۱ پروژې له تدارکاتي پروسې راغلې وې، يعني په دوو کلونو کې له ۲۵۴ پروژو څخه يوازې ۱۱ پروژو ته په مرکزي تداکاتو کې د طی مراحل کيدو نوبت رسيدلې و... همدارنگه د هر وزارت او هر سکتور وضعيت ديته ورته و، يو وخت به مونږ په معارف وزارت کې هر کال شاوخوا ۱۵۰۰ پروژې تدارکات او تطبيق ته سپارلې اما په وروستيو کلونو کې د معارف وزارت د تطبيقي پروژو شمير هر کال تر ۱۰۰ کم پاتې شوې...پدې باب نور روايتونه گڼ دي خو د دې څېړنې اصلي او هدفي برخه تر اغيز راولي نو ...(د مستنده ارقامو لپاره د دولت د وروستيو شپږو کلونو د حساب ورکونې او ملي تدارکاتو د کميسيون کلني گذارشاتو ته مراجعه کولی شئ)*

## د تداركاتو او واكونو د شديداً مركزي كيدو نتيجه څه وه؟

د افغانستان لپاره د نړيوالو حمايوي كنفرانسونو تمويلي ژمنو ته كه دقت وكړو، له ۲۰۱٦، ۲۰۱۸ او بيا په ۲۰۲۰ كې د جينوا كنفرانس...په هر كنفرانس كې له افغانستان سره په اوسط ډول تر ۵ ميليارد ډالر د مرستو ژمنه عملي شوې، كه څه هم شرط پكې دا و چې افغان دولت بايد خپل مصرف لوړ كړي، په ژنيو كې پنځلس ميليارد ژمنه د پنځو كلونو (۲۰۲۰-۲۰۲۵) لپاره وشوه خو ګډونوالو او مشرتابه تاكيد درلود چې د شفاف ميكانيزم له مخې بايد د مرستو لګښت لوړ شي، يعني هر كال بايد تر ۳ ميليارد ډالر زيات لګښت ترسره شي، خو د تداركاتو د مركزي كيدو په سبب دغه مصارف په ۱۴۰۰كال او تر هغه د مخه كلونو كې په اوسط ډول تر ۳۰۰ ميليون ډالرو ندی پورته شوی، يعني هر كال د تداركاتي بروكراسۍ، مركزي كيدو او انحصار په سبب افغانستان له مرسته شويو پيسو شاوخوا ۷۰۰-۱۲۰۰ ميليون ډالرو څخه په لوی لاس محروم شوی.

كه دغه عبارت په رياضي تبديل كړو نو نتيجه دا اخلو چې د افغانستان د رهبرۍ د تصاميمو په نتيجه كې په وروستيو ۷ كلونو كې د وطن انكشاف ته د واريز شويو مرستو له جملې د شاوخوا ۱۵ ميليارد ډالرو د مرستو له لګښت محروم پاتې شوی، لدې سره په ميليونونه افغانان له انكشاف محروم شوې، د وطن عمران او رغونه تاخير شوی او د فساد ميزان (د نړيوال رديف له مخې) كال په كال اضافه شوی او آن د مفسدو هېوادونو د اول نمبر په رديف كې راغلی...

د نړيوالو مرستو د كم اغيز او هم له اقتصادي دوران د پيسو د بيرته وتلو ګڼ نور دلايل او تحليلونه شته چې تذكر يې مهم دي خو د دې مقالې عددي ظرفيت همدومره ايجابوي...

### ثانياً، د نړيوالوشريكانو په اډانه كې د فساد پلټنه:

لكه چې پورته يادونه وشوه د حسن تكرار په توګه هماغه پراګراف رااخلم، كه څه هم د امريكا د ځانګړې سرپلټونكې يا سيګار د راپورونو له مخې له ۲۰۰۱ تر ۲۰۲۱ پورې يواځې ۸٪ مرسته د افغانستان د دولت له رسمي كانال په مصرف رسيدلې، د سيګار د راپور له مخې د نړيوالو تطبيقي موسساتو لخوا له۲۰۰۲ تر ۲۰۲۰ پورې ٦۳ميليارد ډالر د بهرنيو شريكانو، قراردادیانو او امريكايې تطبيقي او اجرايي كوونكو موسساتو لخوا فساد شوی، پدې 63 ميليارد كې 19 ميليارد (30%) يې د تثبيت شويو ارقامو په حيث د جان ساپكو لخوا د امريكا كانګرس ته راپور شوي *(د دې راپور جزئياتو ته پدې ريفرنس ورتللی شئ، SIGAR 21-05-SP October 2020)*.

| منبع: واشنګټن پوست تحقیقي راپور | *$2.121 تریلیون ډالر* |
|---|---|
| *د جګړو مستقیم لګښت* | *$1.5 تریلیون ډالر* |
| *د بانکي سود اندازه* | *$500 میلیارد ډالر* |
| *د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو لګښت* | *$87 میلیارد ډالر* |
| *د افغانستان په اقتصادي پراختیایی برخه کې مصارف* | *$24 میلیارد ډالر* |
| *د مخدره موادو د مخنیوی مصارف* | *$10 میلیارد ډالر* |



غواړم څو هغه عمده لاملونه ذکر کړم چې په سبب یې مرستې شوې پېسې له اقتصادي پلوه اغیزمنې، پایداره او برنامه یې پاته نشوې:

***د واحدې منبع یا د single source له مخې د قراردادونو اجرا کیدل***، چون د امریکا او ناټو مصارفاتو ته د محرمیت له کبله ډېره لاسرسی نه کیږي خو د موجوده اسنادو او وثایقو له مخې چې خپاره شوې په میلیاردونو ډالر د نظامي خریداریو په برخه کې لویو امریکایې کمپنیو ته د واحدې منبع له لارې قرار داد شوې دي، لکه:

**لویس برگر *Louis Berger international (LB)*،** دغه شرکت د امریکا له دفاع وزارت په لومړیو کلونو کې د یو نیم میلیارد ډالرو قراردادونه درلودل، سره لدې چې د افغانستان په قراردادنو کې یې د فساد ګڼې دوسیې تر محاکمو لاړې خو همدې شرکت په وار وار بیا هم د سلګونو میلیون ډالرو قراردادونه ترلاسه کول.

**سوپریم *Supreme*،** ددغه شرکت سرمایه د افغانستان د قراردادونو له برکته په لومړي لسیزه کې (۲۰۰۱-۲۰۱۰ پورې) ۵۰ چنده زیاته شوې ده، په کال ۲۰۱۴ کې د امریکا د یوې محکمې لخوا د شاوخوا ۴۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت جریمه شو، خو ددې باوجود یې قراردادونو دوام وکړ.



**ایبا *AEY*،** دغه شرکت په ۲۰۰۷ کال کې د امریکا د پوځ لخوا د ۲۹۸ میلیون ډالرو یو قرارداد تر لاسه کړ تر څو افغان امنیتي ځواکونو ته پرې مرمۍ، مهمات او اسلحه واخلي دغه شرکت هغه ناچله او بیکاره اسلحه واخیسته چې تاریخ یې تیر و، یعنی د ۱۹۵۰ کال اسلحه... جالبه دا ده چې ناټو هرکال ددغسې مهماتو د مصئون ضایع کولو لپاره په میلیونونو ډالر مصرفوي، خو د ایبا AEY شرکت د میلیونونو ډالرو په ترلاسه کولو دغه داغمه جات وسلې افغان امنیتي ځواکونو ته ورکوي تر څو د مخالفینو په وړاندې پرې وجنګیږي، په لسګونو رانیول شوې غیر فعال الوتکي اوس هم د کابل په هوایي ډګر ولاړ دي چې پرواز نشي کولی، په امریکایي محکمې کې دغه کمپنۍ د فساد او درغلۍ په تور میلیونونه ډالر جریمه شوه خو بیا یې هم ګڼ قراردادونه ترلاسه کړي وو.

مثلاً پورته ذکر شویو او دغو څلورو لاندې شرکتونو یواځې په یوه کال کې د امریکا له دفاع وزارت څخه د شاوخوا ۱۰۰ میلیارد ډالرو په ارزښت قراردادونه تر لاسه کړي و، فکر وکړې چې دوی په مجموع کې په شلو کلونو کې څومره قراردادنه او څو سوه میلیاردو ډالرو په بیه تر لاسه کړي او که د فساد کچه به یې په مجموعي توګه څومره وي، پورته خو ما یواځې په نمونوي توګه په ځینو قراردادونو کې د درغلو نمونه وړاندې کړه، که د هر قرارداد او هر فساد تحلیل او محاسبې ته لاس رسی پیدا کړو نو ګڼل به یې زمونږ سر په درد راوړي.

د لاندې شرکتونو د یو کال د قراردادونو ارزښت:

- **ریتاین تکنولوژي *Raytheon Technologies Crop*** د ۲۰،۷ میلیارد ډالرو قراردادونه یې درلودل

- ***لاکيد مارتين Lockheed Martin Corp*** د ۴۰،۲ ميليارد ډالرو قراردادونه يې درلودل
- ***بوئينګ ګروپ Boeing Co*** چې د ۲۲،۱ ميليارد ډالرو قراردادونه يې درلودل
- ***جنرال ډاينمکس General Dynamics Crop*** چې د ۱۷،۸ ميليارد ډالرو قراردادنه يې درلودلدا پورته شرکتونه بخصوص دغه څلور وروستي يې د امريکا د دفاع وزارت قراردادی شرکتونه دي چې په ميلياردونو ډالر قراردادونه يې درلودل ددې تر څنګ چې د فساد او درغليو ميلياردونه ډالر ضايعات او بدنامه دوسيې لري برعلاوه دوی خپله ۹۰٪ خريداری يې له خارج کوله چې طبعاً د دوی پيسې بيرته د دوی خپل وطن ته يا هم د پولشويي تر دوربين پټ کول بل د تورو پيسو بازار ته انتقال شوې.

***د امريکا ترڅنګ په تيرو شلو کلونو کې د بريتانيا د جنګ مصارف تر کال ۲۰۱۴ پورې ۳۸،۴ ميليارد ډالرو ته رسيدلی،*** چې د دوی د مصارفو ډيره کمه برخه پيسې د افغانستان قراردادیانو او د افغانستان اقتصاد ته په برخه شوې، له ۲۰۱۴م کال وروسته د بريتانيا د مخفي مصارفاتو او غير اقتصادي تادياتو په اړه معلومات راسره نشته خو که په افغان اقتصادي دوران او د پيسو په دوراني دايره Circulation of money کې وګورو د پرديو ميلياردي ډالرو اغيز پکې بې نهايت کم انداز دی، دليل يې د خارجي اسعارو قاچاق، بهرنيو هېوادونو ته د پيسو سيستماتيک فرار، له بهرنيو هېوادونو د خارجي ځواکونو لوژيستيک او خريداری، له واحدې منبع تدارکات او مستقيماً د تمويلوونکو لخوا په خارجي بانکونو او اکاونټونو کې خپلو قراردادنو ته د هغوی تاديات ور تسليمول، دا هغه عمده فکټونه دي چې پر افغان اقتصاد يې ددغو پيسو اغيز کم کړی و.د پيسو د بې اغيزتوب او ضايعاتو نورې نمونې هم شته، لکه د نظامي سکتور، جنګي عملياتو، د عسکري بيسونو اعمار او تخريب او داسې نور چې پدې برخه کې لګښتونه قطعاً پر افغان اقتصاد اغيز نه درلود، مثلاً د بلومبرګ د راپورونو په اساس په لسګونو ميليارد ډالر د بګرام بيس، شورابک يا باستين، کندهار بيس، ننګرهار او د شمال د نظامي بيسونو په ايجاد او دوباره تخريب کې مصرف شوي چې هيڅ اقتصادي بازدهي يې زموږ اقتصاد ته نه درلوده، پدې ميان کې ۱۰۸ ميليارد ډالر د سکروټي کاسټ په نوم په اوپراتيفي توګه مصرف شوي چې ويل کيږي آن مزاحمتي ډلو ته هم رسيدلې دي. علاوه پر دې که تاسو د شورابک بيس مستند وګورئ متوجه به شئ چې خارجي ځواکونو څنګه خپلې قرارګاوې په لوړو مصارفو جوړې کړې او بيا د دې پر ځای چې خپلو افغان شريکانو او ځواکونو ته يې وسپارې دوی يې بيرته ضايع کوي او بيا همدا پيسې افغانستان ته د مرستو په عنوان زموږ پر تندي پيوندوي...!!

https://youtu.be/Icd-4O1q2Jo?si=EiHx3VWOUBZmo88j دا د هلمند د باستين بيس مستند دی،

محمدآصف ننګ
د اقتصاد خپرندوی مشر





https://youtu.be/n7T7P8RkcfM?si=NTdvbcw2eSfqNRGb دا د کندهار بیس مستند دی او همدارنګه د بګرام، شمال او نورو بیسونو ګڼ معتبر مستندونه شته چې په یوتیوب کې موجود دي...د برون پوهنتون Brown University د څېړنو او موندنو له مخې امریکا په افغانستان کې په تیرو شلو کلونو کې ۲،۲۶۱ تریلیون لګښت د جګړه ییز ماموریت په دران کې ترسره کړې چې پدې حساب د خارجي حضور روزانه مصرف تر ۳۰۰ میلیون ډالرو رسیدو، شاوخوا ۸۰۰ زره امریکایي عسکرو او نظامیانو په نوبتي توګه افغانستان ته تګ راتګ کړی. مراجعه وکړئ، https://youtu.be/GLKSa4pGMwU?si=BAMrS33s9SadJxft، په لاندې جدول کې یو لړ هغه مصارف پر افغانستان حساب شوی چې هیڅ ډول تړاو له افغانستان سره نلري.



### مقايسوي تحليل، د افغانستان د شل کلن او دويم نړيوال جنګ ترمنځ

د غير مسوولو قضاوتونو په سلسله کې په نړيوالو او محلي ژورنالونو کې افغانستان د نړۍ مرسته د اروپا د بيارغاونې له مرستو سره مقايسه کوي ګويا هلته په کمو مرستو ډېر کارونه او عمران ترسره شو، منم چې دا په ظاهر سمه خبره ده خو ځو واقعيتونه بايد په پام کې ونيسو:

تر دويم نړيوال جنګ وروسته د ۱۹۴۶-۱۹۵۲ کلونو په ترځ کې امريکا جرمني ته ۲۹،۳ ميليارد ډالر او په عين کلونو کې يې د جاپان بيا رغاونې ته ۱۵،۲ ميليارد ډالر مرسته ورکړې وه، چې د افغانستان په تناسب (۱۸۴ ميليارد ډالر په شلو کلونو کې) ډېر زيات تفاوت ښکاره کوي، په ظاهره خو مونږ د پيسو مقدار ته ګورو خو کيفيتي بحث يې هم مهم دی، مثلاً د ډالر نرخ په هغه وخت کې او په اوس وخت کې، د تورم او انفلاسيون نرخ په هغه وخت کې او پدې وخت کې او ځينې نور... مثلاً د داوړو مرستو ترمينځ تفاوت دا دی چې د مارشال پلان موده ٦ تر لس کاله وه، دويم دا چې په جرمني او جاپان کې تر جګړې وروسته وضعيت آرام و جګړه نه وه، د افغانستان برعکس، دريم دا چې هلته د امريکا مرسته په کامله توګه د همدې هېوادونو رهبرۍ ته وسپارل شوه، په داسې حال کې چې په افغانستان کې راغلې مرسته د جګړې لپاره لګيدله، د جګړو د تخريباتو په سبب دوباره ضايع کيده، مرسته د تمويلونکو په تصرف کې وه، بهرنيانو په ډېر لوړ قيمت قراردادونه کول، له فساد او درغلې ډک مصارفات يې ترسره کول، له واحدې منبع يې ترسره کول، د مرستو د فرار او ميزبانو هېوادونو ته د تورو پيسو د ورتګ لپاره سيستماتيکه ميکانيزمونه داسې عيار شوې و چې پيسه دلته پايداره او د افغانستان په اقتصادي سيستم کې اغيزمنه نشي...

**نړيوال حضور او مشارکت Contribution،**

**د جګړو اقتصاد War Economy**

**او ماتيدونکی دولت Fragile state**

معمولاً جګړې له ځان سره د جګړو اقتصاد يا War Economy ايجادوي چې د مالي فساد بنيادونه ورسره نهادينه کيږي، مصنوعي ميليونران جوړوي، اداري سيستم او کنترول له مينځه وړي، د ټولنيزو بنيادونو د متولو په مقصد نوی بی تجربه ځوانان د مدني فعالانو په عنوان د رسمي اداراتو د مزاحمت او تخريب لپاره ايجادوي، مافيايي باندونه او د اختطاف او لنډغرو ګروپونو په ايجاد سره ټولنيز شرافت په بې بندوبارۍ بدلوي، سازماني

او اخلاقي رکنونه سستوي، شخصيت وژنه، سپکاوی او هتک حرمت د استعمار لاینفک اجزا بلل کيږي، د وطنپرستی پديده له منيځه وړي او پر ځای يی ملي دولت په اجير او فرمانبرداره دولتي دستگاه تبديلوي.

د جگړو اقتصاد که له يوې خوا مصنوعي ميليونران جوړوي تر څنگ يې مصنوعي او روبنايې پرمختگ هم راوړي چې ډير فريبنده او عبوري وي، چون دا د جگړو اقتصاد يو ځانگړی بحث دی چې پدې مقالې کې يې تفصيل ته گنجايش نشته، مگر په لنډه کې به ووايم چې مجاني پيسې له ځان سره کارگو کولت Cargo Cult زيږوي، فکري اسارت زيږوي، حقيقي اقتصادي رشد او ځواکمنتيا په وابستگۍ بدلوي، د پيسو قماري انبارونه د اداري فساد سبب گرځي، د دولت عدلي او کنترولي ميکانيزم مفسدوي، تنبلي او بيکاري خلق کوي، مافيايې او قراردادي قشر خلق کوي، د دولتي دستگاه لپاره مزاحمتي او د فشار گروپونه راټوکوي، ملي وقار او ملي وجاهت په ذلت بدلوي او په مجموع کې د ټولنې اساسي ارزښتونه او د خپلواک دولت ستنې تضعيف کوي.

د مجاني مرستو پر ځای دولتونه کولی شي په ملي منابعو کې د گډو گټو په ايجاد، د سيمه ييزه همپالنې او دولتي مشارکتونو په مدد کولی شي بنيادي ودې، ځان بسياينې او ثبات ته ورسيږي.

## د فکري انحراف پروژې او د ذهنيت جوړوني مرموزه ميډيايي غدې!

طبعاً د پورته ذکر شوې سرکل يا دائرې «*نړيوال حضور او مشارکت Contribution، د جگړو اقتصاد War Economy او ماتيدونکی دولت Fragile state*» د ايجاد، چلښت او تداوم لپاره گڼ ابزار او وسايل پکار و. ټولو ته يې نه خو دغه يوه ته يې اشاره کوم.

په يوې امريکايې ټوکې به يې شروع کړم: د داوطلبۍ يو اعلان خپور شوی و، ويل يې د سپينې مانۍ ترميمات او رنگمالي ترسره کيږي، چينايي کمپنيو ۵ ميليون نرخ يا آفر ورکړی و، امريکايي شرکت ۱۰ ميليون او پاکستاني کمپنۍ ۱۵ ميليون، همدا دريمه کمپنۍ کامیابه شوې وه، ويلې و چې که مونږ قرارداد وگټو نو ۵۰٪ تخفيف ورکوو او يو مقدار پيسې به تدارکاتي اداري ته هم ورکوو،، د قرارداد تر امضا وروسته ترې وپوښتل شو چې پدې قرارداد کې خو که تاسو دومره تخفيف او بخشش ورکړې نو څنگه به يې تطبيق کوئ، د گټونکي شرکت تر محاسبې (تر تخفيف او بخشش) وروسته معلومه شوه چې د قرارداد قيمت تر ۷ ميليون راښکته کيږي، خو گټونکې شرکت خپل قرارداد سب کانترکت (فرعي قرارداد) کړی و، هماغه چينايې کمپنۍ ته يې پر ۵ ميليون ورکړی و، او دوه ميليون يې بيا هم کمايی کړې و، خو د ۱۵ ميليون په تقسيم کې يې پاته اته ميليون پخپله امريکايانو ته ورکړې و...

دلته په افغانستان کې زياتره قراردادونه د همدې فورمول له مخې تطبيق شوې و... په هاليودي فلمونو کې اکثريت سوژې همداسې دي، له حساسو ځايونو غلا، مدرنه غلا، مرموزه فريبونه، چالاکي، سايبري غلاوی او..

خارجي غله او زندان ماتوونکي، لکه څنګه چې يې هاليودي فلمونه په نمايش ږدي په مراتبو تر هغو لوړ او پاخه دي، دوی دومره ماهرانه د افغانستان سريال ته داخل شول او په دومره مهارت يې هرڅه ولوټل چې د فلمونو د سکرينونو شاته تماشا چيان نه بلکې ټوله نړۍ يې هم په لوټ تالان پوه نشول، ګڼ ځلې مې له امريکايي منابعو لوستي چې د نړيوال حضور د دوران د ۲.۳ ټريليون جنګي لګښتونو د شاوخوا يو ټريليون حساب معلوم او قسماً مستند دی، خو پاتې څه د پاسه يو ټريليون قناعت بخشه ديوان او اسناد نلري، پدې کې پر رسوايي باندې پرده غوړول شوې ځکه چې ارباب يې لازمه نه بولې يا خو ښايي د لوبې پدې مرحله کې يې راسپړنه لازم نه وي، مګر زمونږ په ميدان کې د ۲۰ ميليارد ډالرو حساب دومره عظيمه رسوايې خلق کړې چې روانه پېړۍ يې شايد منځلی هم نشی.

طبعاً د ساده ملت ۴۰ ميليون وګړې خو پرې پوې نه دي چې اصلي ماجرا څه ده بلکې دا شهيد پروره ملت خو د همدې لوټمارانو رضاکاره مجاني مبلغين او مدافعين هم دي، لويه ميلياردي غلا دوی وکړه خو ملامتي پر مظلوم ملت او بيچاره دولت وتپل شوه، دغه ذهنيت جوړونه او د فکرونو انحراف د غربي ميډيا او مستاجرو استخدام شويو مطبوعاتو په مدد ترسره شوې او لاهم ترسره کيږي، د علی بابا او ۴۰ غلو کيسه د سادګۍ د عصر يوه جذابه استوره ده مګر د يوشتمې پېړۍ د غلا او تالان داستان ډير عظيم او پراخ دی... دومره پراخ چې بايد د هرې ورځې په اړه يې کرنولوژيک کتابونه پرې وليکل شي او مستنده ډاکمنټري فلمونه پرې جوړ شي.

ممکن يو څو کاله بعد دا واقعيتونه عام شي، د ولس درک او شعور بيدار شي، د رسوايۍ د عصر حقيقي داستان بر ملا شي او هغوی چې خپله خزانه يې په ځان او موږ ولوټله او هغوی چې په آسانه او پراخه پيمانه بدنام شول هم به افشا شي، باورمند يم چې د تاريخ واقعيتونه، ولو که کلونه کلونه منحرف او مزور پاته شي، يوه ورځ به اصلاح او يوه ورځ به يې حقيقت رابربند کيږي.

### د افکار د بدلون او اذهانو د تسخير لپاره د ميډيا استخدامول

- ميډيا معمولاً په لوړو مالي امکاناتو او ډېرو زياتو سوژو چليږي، د دواړو لپاره په افغانستان کې سازماني کارونه ترسره شوې، خارجی حضور له ځان سره د جنګي ماموريت تر څنګ، چې مصارف يې تر دوه ټريليون اوړي، دوی د جنګي ماموريت د تکميلي فعاليتونو لپاره خپله ميډيايي څپه هم ايجاده کړې وه، هم يې د خپل حضور د مشروعيت او توجيه لپاره ميډيا ته ضرورت درلود او هم يې تر بُن وروسته د نويو شرايطو لپاره د فکري بدلون او د دولت جوړونې او قانونمدارۍ لپاره پر ميډيا فوق العاده تمرکز وکړ.
- دوی د موشيګافانه انتخاب او دقت له مخې د ګڼو رسنيو په ايجاد او د يو لړ خاصو رسنيو په استخدام لاس پورې کړ، طبعاً دغه کار د خصوصي او آزادو مطبوعاتو تر چتر لاندې د وطن ذهني او فکري فضا د اشباع او کنترول لپاره په سلګونو سمعي، کتبي او بصري رسنۍ ايجاد شوی و، ستاسو به په ياد وي چې د

څو نامداره رسنیو او تلویزیونونو مالکان پکې په میلیونرانو او مطبوعاتي ټایکونانو تبدیل شول دغو رسنیو په سیستماتیکه توګه دولتي نهادونه، دولتي مقامات او نامداره شخصیتونه تخریبول، باجګیرۍ یې کولې او حتی داسې ځانګړې برنامې به یې جوړولې چې تر خپرولو د مخه به یې پرې هدفي شخص یا نهاد باج ورکولو ته مجبورول او تماشاچیان به یې پرې خندول (!) د رسنیو مالکین خو پریږده آن چې د همداسې برنامو چلوونکي هم له باد راوړې ناجایزه ثروت او رشوت مستفید کېدل، دوی یوه خبیثه کړۍ جوړه کړې وه، مطبوعات، استخبارات او د خارجي نهادونو او موسسات ترمینځ یې مافیایي کاروبار ایجاد کړې و، د اجیرو رسنیو خاوندان به له لوړو او قیمتي تحفو او خارجي سفرونو مستفید کېدل، پدې توګه به شخصیت سازي او شخصیت کشي د تحفو او امتناع ترمنځ ترسره کېده.

▪ پدې ستون سره نړیوالو مافیاوو پل فساد داسې پټ کړ او افغانان یې پرې دومره بدنام کړل چې د رسوایې عصر به پرې ګواهي ورکوي... غربي میډیا چې په ژیړ ژورنالیزم چلیږي او هغو رسنیو چې د بهرنیو په فنډ چلیدلې دوه لسیزې یې دولت او ملت دواړه سپک او بدنام کړل، هغه انحرافي روایت یې پر موږ وتاړه چې قطعاً یې پدې پیمانه سزاوار نه و، دا روایت باید اصلاح شي او د فساد داستان باید دوباره په حقیقي بڼه دغه غافل ملت ته زمزمه شي! یار زنده و صحبت باقی....

## د دې څېړنې خلاصه او نچوړ

- په تېرو شلو کلونو کې (۲۰۰۱-۲۰۲۱) په افغانستان کې له نړیوال حضور سره په افغانستان کې جمعاً ۲.۲۶۱ تریلیون ډالر لګښتونه د نړیوال ائتلاف لخوا په نظامي برخه کې ترسره شوي دي، چې له دې جملې څخه یې ۱۸۴ میلیارد ډالر په ملکي ساحه کې (حکومتدارۍ، د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ، بیارغاونې او ملي بنستونو د ایجاد او اجرا لپاره) مصرف شوي.

- د ۱۸۴ میلیارد ډالر ملکي مصارفاتو له جملې یوازې ۲۲.۹۹ یا ۲۳ میلیارد په شلو کلونو کې، یعني هر کال د افغانستان د انکشافي صندوق له لارې د افغانستان *ملي بودجې او خزانې ته ۱.۱۵ میلیارد ډالر مرسته* ورکړل شوې دي، یعني یوازې ۱۲ تر ۱۸٪ یې (د مالیې وزارت په نقل) د افغان حکومت له چینل مصرف شوې، مګر د سیګار په رسمي اسنادو کې ښودل شوې چې یوازې ۸٪ مرسته په تېرو شلو کلونو کې د افغان دولت له لارې لګېدلې چې په هغه کې حدوداً (۶۶٪) غیر اختیاري بودجه هم شامله وه چې د مصرف واک یې غالباً تمویلونکو درلود.

- لکه چې تشریح شوه په تېرو شلو کلونو کې هم د افغانانو (افغان حکومت او افغان قراردادیانو) لخوا او هم د خارجي همکارانو او ائتلاف لخوا ترسره شوی، خو که ارقامو ته وکتل شي، د افغان حکومت په اړانه کې د فساد کچه نسبت د بهرنیو د فساد کچې ته ډېره کمه، بلکې بېخي کمه ده، منتها د بدنامۍ تور تر بهرنیانو پر افغانانو زیات ثبت او تبلیغ شوی، چې پدې بحث کې جوهري هدف همدا و چې د ارقامو په ژبه یې تشریح او ثابته کړو چې د «عصر پدې رسوايۍ» کې مبالغه، افراط او په سیستماتیکه توګه بزرګنمایي شوې ده.
- پدې رسوايۍ او بدنامۍ کې کاملاً د برنامې او سکرپټ له مخې عمل شوی، نړیوالې میډیا او په افغانستان کې اجیر میډیا د رسوايۍ پدیدې ته ډېر ستر پرداز ورکړی، پدې پرداز او افواه کې اجیرو مطبوعاتو مبالغه کړې او په مقابل کې یې مبالغ اخیستې دي تر څو دغه بدنام او تور روایت د افغانستان په تندي هک کړې او پایداره پاته شي او پدې توګه د عام ساده ولس له نظره د فساد ټوله بدنامي پر افغانانو تپل شوی او اصلي فسادګران له نظره پټ پاته شوي دي.

- استعمار معمولاً د خپل حضور په جریان کې حالات داسې مهندسې کوي چې د ملت او دولت ترمینځ رابطه ضعیفه، مشکوکه او په تضاد کې پاته شي، په نتیجه کې حکومت ضعیفه او وابسته پاته کیږي او پدې توګه د خپل حضور لپاره بهانې توجیه کړي او تحت الحمایه دولت دیته اړ باسي چې پر خارجي حضور متکي پاته شي.

- اداري او مالي فساد هغه بده او ناوړه پدیده ده چې د افرادو او دولتونو شان او شوکت له منځه وړي، هیبت او هیمنت یې راغورځوي او د شکست او زوال زمینه یې مساعدوي، بخصوص کله چې د فساد او ناعدالتیو کچه دومره پراخه شي چې د اصلاحاتو امکانات منتفي کړي او مشروع اقتدار په فاسدې او نامشروع واکمنۍ بدله شي، طبعاً کله چې ولسي ملاتړ له منځه لاړ شي هیڅ بهرنی ملاتړ نشي کولی د بقا او دوام زمینه مساعده کړي.

## منابع او مآخذ


- د لیکوال شخصي یادداښتونه، مشاهدات او لاسوندونه
- SIGAR, 18-06 SP July17, 2018
- SIGAR 21-0 SP October2020
- Www.sigar.mil, main page
- The Asia Foundation, Afghanistan, Survey of the Afghan people (2004-2019)
- The Economist2021/8/26, the Afghan government was undone by its own corruption
- د افغانستان په اړه د پنتاګون راپور، کال ۲۰۱۴ فبروري میاشت راپور
- SIGAR march 17, 2015 Center for American progress, tackling corruption in Afghanistan
- د شفافیت بین المللی سازمان Transparency International, Corruption and anti-corruption in Afghanistan 2013 brief
- SIGAR report on Kabul Bank 2010
- Corruption in Afghanistan and the role of development assistance, Author: Mathias Bak Reviewer(s): Roberto Martinez B. Kukutschka, 29 April 2019
- DFID Report to UK parliament July 2012, international development written evidence submitted by Oxfam, www.parliament.uk
- Oxfam America, Research report, to fight corruption, localize Aid
- UNODC, corruption in Afghanistan recent patterns and trends, December 2012
- د افغانستان د مالیه وزارت ارشیفی اسناد
- د اقتصاد وزارت ارشیفي اسناد
- Research by: MANAS journal of social studies, the US-led war on terror in Afghanistan 2001-2021
- https://thediplomat.com/2021/10/how-corruption-played-a-role-in-the-demise-of-the-afghan-government/
- CNN, Jake Tapper Documentary, America's longest war
- بلومبرګ، Noorulari Mal د مستنداتو سلسله
- https://www.bbc.com/persian/afghanistan-55023507
- https://watson.brown.edu/costsofwar/figures/2021/human-and-budgetary-costs-date-us-war-afghanistan-2001-2022
- https://www.aljazeera.com/economy/2021/8/16/the-us-spent-2-trillion-in-afghanistan-and-for-what
- https://www.moneycontrol.com/news/photos/world/taliban-captures-afghanistan-how-us-armed-the-taliban-7360301-1.html